5+
عمر لرونکو لپاره موجود دي

په حقایقو پوه شئ.

# له حقایقو ځان خبر کړئ.

## تقویه کوونکي دوزونه

## د کوویډ-19 واکسینونه اغېزمن دي

د کوویډ-19 واکسینونه ډېر اغېزمن دي. که چېرې تاسې په بشپړ ډول واکسین شوي یاست، ددې احتمال شتون نلري چې تاسو په کوویډ-19 اخته شئ او یا یې خپلو خپلوانو ته ولېږدوئ.. حتا که تاسې په دې ناروغئ اخته شوي هم یاست، دا واکسین مو په خطرناک ډول د ناروغه کېدو څخه مخنیوی کوي.

## تقویه کوونکي خوندي دي

د کوویډ-19 تقویه کوونکي د اصلي واکسینونو په څیر مواد لري، کوم چې د سلګونو میلیونو خلکو لپاره خوندي ثابت شوي دي. لږ جانبي عوارض درلودل عادي دي. جدي جانبي عوارض یې ډېر کم دي.

## تقویه کوونکی ستاسې سره په خوندي اوسیدلو کې مرسته کوي.

تقویه کوونکي هغه دوزونه دي چې تاسې ته په بشپړه توګه د واکسین کیدلو څخه څو میاشتې وروسته درکول کیږي، تر څو تاسې د کوویډ19- په مقابل کې خوندي پاتې شئ.



تقویه کوونکي د زیاتو واکسینونو لپاره عادي دي. د مثال په توګه، د تیتانوس واکسین د ځوانانو لپاره په هرو 10 کلونو کې تقویه کوونکو ته اړتیا لري.

ساینسپوهان دا موندلې چې د وخت په تېرېدو سره د ځینو واکسینونو په وسیله د یو کس ساتنه راکمېږي، او یو تقویه کوونکی له دوی سره مرسته کوي چې تر څو خوندی پاتې شي. د کوویډ-19 تقویه کوونکي په ورته ډول کار کوي.

United Healthcare
UNMC

For more information: vaxne.org



## کوم کسان تقویه کوونکي ترلاسه کولای شي


تقویه کوونکي هر چا ته اضافي خوندیتوب ورکوي، مګر دا په ځانګړي ډول د هغو خلکو لپاره مهم دي چې روغتیایی ستونزې، دندې، یا د ژوند په داسې حالاتو کې قرار لري چې په کووید-19 یا بلې شدیدې ناروغۍ باندې د اخته کیدلو له جدي ګواښ سره مخ دي.

پرته له دې چې ستاسې د کډوالۍ حالت په پام کې ونیول شي، او یا تاسې روغتیایي بیمه او یا کارت ولرئ، تقویه کوونکي د ټولو خلکو لپاره وړیا دي.

## حتا زیات خوندیتوب ترلاسه کړئ

د خپلې کورنۍ، ځان او ټولنې د خوندي ساتلو لپاره غوره لاره داده چې باید په بشپړه توګه واکسین شئ. تقویه کوونکي حتا تاسې ته زیات خوندیتوب چمتو کوي. کله چې تاسې ناورغ یاست او ددې له پاره چې نور خوندي پاتې شي، د ماسک اچولو ته دوام ورکړئ، ټولنیز واټن مراعت کړئ او په کور کې پاتې شئ.

که چیرې تاسې د تقویه کوونکي په اړه پوښتنې لرئ د خپل ډاکټر، درمل پوه، یا یو بل روغتیایی کارپوه سره اړیکه ټینګه کړئ.



## خپل ځان خوندي وساتئ. خپله ټولنه خوندي وساتئ. واکسین وکړئ.

United Healthcare UNMC

For more information: vaxne.org